# یو ځای اوسیدل

## مينه:

مينه صابره ده، مينه مهربانه ده او هيچا سره كينه نۀ لري، مينه نۀ خو لافې وهي او نۀ لوئي كوي، نۀ بې ادبي كوي، نۀ په خپل مطلب پسې ګرزي، نۀ غُصه كوي او نۀ بد ګماني كوي، مينه دَ نورو دَ بدو حساب نۀ ساتي او نۀ دَ نورو په بدكارئ خوشحاليږي بلكه په رينتياؤ خوشحاليږي. داسې هيڅ څيز نشته چې مينه يې زغملے نۀ شي، په هر څه يقين كوي، دَ هر څه اُميد لري او دَ هر څه زغم كوي.دَ مينې زوال نشته.

(اول خط دَ كورنتيانو په نوم ۱۳: ۴-۸)

# مينه مهربانه ده

کهٔ ټول ودُونه دغسی وے نو څهٔ به شوی وے؟
مقدس کتاب مونږ ته دَ يو ځائ اوسيدلو دپاره دَ ټولو نه ښهٔ لار ښائی.

دغه شان خاوندانو ته لازم دی چه دَخپلو ښځو سره دَ خپل بدن په شان مينه کوی. څوک چه د خپلی ښځی سره مينه کوی هغه د خپل ځان سره مينه کوی. ځکه چه چيری هم چا دَخپل بدن سره دښمنی نهٔ ده کړی بلکه هغه پالی او پرورش يی کوی، داسی لکه چه مسيح دَ جماعت کولو.
بهر حال په تاسو کښی دِ هم هر يو دَ خپلی ښځی سره دَخپل ځان په شان مينه کوئ، او ښځه دِ هم دَ دِ خيال ساتی چه د خاوند عزت کوی.
(خط دَ افسسيانو په نوم ۵: ۲۸- ۲۹ ، ۳۳)

په حقيقت کښی وادهٔ په څهٔ شی کاميابيدے شی؟

دا ټول د څهٔ په حقله دی؟

# داسی هیڅ څیز نشته چه مینه یی زغملے نهٔ شی

# دا د ورکولو په حقله دی

## وادهٔ د ورکولوپه حقله دے دَ اخستلو نه.

د خودغرضئ او بی ځایه فخر په وجه څه مه کوی، بلکه په عاجزئ یو بل دَ ځان نه غوره ګڼئ. هر یو دِ تش په خپل حال نه بلکه د یو بل په حال هم نظر ساتی.
(خط دَ فلیپیانو په نوم ۲: ۳- ۴)

اے میرمنو! تاسو د خپلو خاوندانو تابعداری اوسئ، چه دا ستاسو د ایماندارانو فرض دے.
اے خاوندانو! د خپلو ښځو سره مینه لری او د هغوی سره ترخیږئ مه.
(خط دَکولوسیانو په نوم ۳: ۱۸- ۱۹)

خاوند دِ دَ خپلی ښځی حق پوره کوی او دغه شان دِ ښځه د خپل خاوند. ښځه د خپل بدن واکمنه نهٔ ده بلکه خاوند دے. همدغه شان خاوند د خپل بدن واکمن نهٔ دے بلکه ښځه ده. تاسو د یو بل نه جدا مهٔ اوسیږی خو د لږ وخت د پاره د یو بل په رضا د دِ د پاره چه د دعا فرصت و مومئ، او بیا یو ځای شئ، داسی نهٔ وی چه د نفس د غلبی په وجه شیطان تاسو وغلوی.
(اول خط د کورنتیانو په نوم ۷: ۳- ۵)

عیسیٰ مسیح و فرمایيل: ” ..... د اخیستلو نه ورکړه غوره ده. “
(اعمال د رسولانو ۲۰: ۳۵)

# مینه په هر څۀ یقین کوی

## دا د وعدی په حقله دی

**د وادۀ وعده د ټول عمر دپاره ده نه چه صرف د احساساتو .**

خو د دنیا د پیدایښت نه خدای دوی " نر او ښځه پیدا کړل." " په دی وجه به سړی خپل مور او پلار پریږدی او د خپلی ښځی سره به یو ځای شی. او دواړه به یو وجود شی " او پس له هغی په دوی یو وجود وی او بیلتون به په کښی نه وی. هر څه چه خدای یو کړی وی بنی آدم دِ یی نۀ جدا کوی.
(مرقس ۱۰: ٦ – ۹)

خو چه د چا وادۀ شوے وی هغوی ته، زه نه، بلکه مالک حکم ورکوی چه ښځه دِ خپل خاوند پری نۀ ږدی. او که یی پریږدی نو یا خو دِ وادۀ و نۀ کړی یا دِ دَ خپل خاوند سره بیا یو ځای شی، او خاوند دِ هم خپله ښځه طلاقه نه کړی.
(اول خط د کورنتیانو په نوم ۷: ۱۰- ۱۱)

د هغې نه پس د مثال په طور يوه وادۀ شوې ښځه تر هغې د خپل خاوند پابنده ده تر څو چې هغه ژوندے وی، خو که د هغې خاوند مړ شی نو بيا هغه د وادۀ د شرعی پابندو نه خلاصه شی. نو په دې وجه که هغه د خپل خاوند په ژوندانۀ د بل سړی سره لاړه شی نو هغه زنا کوی، خو که چيرې د هغې خاوند مړ شی نو هغه د شريعت په مطابق آزاده ده، نو هغه که چيرې بيا د بل سړی سره وادۀ وکړی نو زنا کاره نۀ وی.
(خط د روميانو په نوم ۷: ۲- ۳)

# مینه د هر څۀ زغم کوی

## دا د وفادارۍ په حقله ده

**وادۀ ځانله یوه رشته ده.**

وادۀ دِ په تاسو ټولو کښې د عزت خبره وګڼلے شی، ښځه او خاوند دِ دَ یو بل سره وفادار پاتې شی ځکه چه خدای به په خپله د حرامکارو او زناکارو عدالت کوی.
(خط د عبرانیانو په نوم ۱۳: ۴)

نو د خدای دا مرضی‌ده چه تاسو پاک شئ، یعنی د حرامکارئ نه ځان وساتئ. او په تاسو کښې دِ هر یو خپل وجود په پاکوالی او عزت سره په قابو کښې ساتل زده کړی، نۀ د شهوت د جوشه د هغه قومونو په شان چه خدای نۀ پیژنی.
(اول خط د تسالونیکیانو په نوم ۴: ۳- ۵)

**د حرامکارۍ د ویرې نه دِ هر سړی خپله ښځه او هره ښځه دې خپل خاوند وساتی.**
**(اول خط د کورنتیانو په نوم ۷: ۲)**

**چه یوه زناکاره او حرامکاره ښځه څوک چه خپله مینه خرڅوی په لږ قیمت اخستے شی. خو د بل سړی ښځې سره زنا به ستا هر څۀ تباه کړی.**
**(متلونه ٦: ٢٦)**

# مينه غُصه نهٔ کوی

## دا د خبرو اترو په حقله ده

**د يو بل سره خبری کول او د يو بل اوريدل خفګان ختمه وی.**

اے زما وروڼو! دا خبره تاسو ته معلومه ده، نو هر څوک دِ په آوريدو کښی تيز او په وينا کښی قلاره او په غُصه کښی سوړ وی.
(يعقوب ۱ : ۱۹)

نرم جواب غُصه ختمه وی ، خو سخت جواب غُصه نوره هم زياتوی.
(متلونه ۱۵ : ۱)

که چيرته غُصه شوئ نو په غُصه کښی ګناه مهٔ کوی او خپله غصه د نمر د پريوتو نه اخوا مهٔ اوږدوی.
(خط د افسيانو په نوم ۴: ٦)

سختی خبری لکه د تُورو په شان زخم جوړوی. خو د حکمت خبری شفا ورکوی.
(متلونه ۱۲: ۱۸)

ښه سړے به د خپل زړهٔ د خزانی نه ښهٔ څیزونه راوباسی او بد سړے به د خپل زړه د بدی خزانی نه بدی خبری راوباسی، ځکه چه کومی خبری چه په زړهٔ کښی وی هم هغه په خُله راځی.
(لوقا ٦: ۴۵)

# مینه د نورو د بدو حساب نۀ ساتی

## دا د بخښنې په حقله ده

**هیڅوک هم همیشه په حقه نۀ وی _تاسو له معاف کول پکار دی.معافی یوه فیصله ده چه تاسو یې کوئ.**

نفرت مصیبت جوړوی خو مینه غلطیانی معاف کوی.
(متلونه ۱۰:۱۲)

عیسیٰ مسیح وفرمائیل: " ځکه چه کۀ تاسو د هغه چا قصور معاف کړئ چا چه در سره بد کړی وی، نو ستاسو آسمانی پلار به هم تاسو معاف کړی.خو کۀ چیری تاسو نور نۀ معاف کوئ نو ستاسو قصورونه به هم ستاسو آسمانی پلار معاف نۀ کړی".
(متی ٦: ۱۴ – ۱۵)

**عیسیٰ مسیح وفر مائل : ’’ته د خپل ورور په سترګه کښې دبورې خسنې ته ولې ګورې او په خپله سترګه کښې لوی غوړګے نۀ وینې؟ تۀ خپل ورور ته داځنګه وئیلے شې چه زما خوږه وروره! راشه چه ستا د سترګې نه دا خسنے وباسم چه خپله سترګه دِ په غوړګې ړنده ده؟ اے منافقه! اول د خپلې سترګې نه غوړګے وباسه او بیا به تۀ به آسانه د ورور د سترګې نه خسنے ویستے شې‘‘.**
(**لوقا ٦: ۴۱- ۴۲**)

**د یو بل زغم کوئ. کۀ په تاسو کښې څوک د بل چا خلاف څه شکایت لرې نو تاسو یې هغه شان معاف کوئ لکه چه تاسو مالک معاف کړئ. او د دې نه سوا تاسو په خپلو کښې مینه وساتی، چه تاسو په کامل طور د یو بل سره یو کړې.**
(**خط د کولوسیان ۳: ۱۳ – ۱۴**)

# مینه په خپل مقصد پسی نۀ ګرځی

## دا د نورو په حقله ده

**د ښځی او خاوند دا ذمه واری ده چه د مور پلار، بچو او میلمنو خیال وساتی.**

د خپل مور پلار عزت کوه .
(استثنا ۵: ١٦)

د ماشومانو ښۀ پالنه وکړه چه هغوی به یی ټول عمر پوری یاد ساتی.
(متلونه ٢٢: ٦)

کۀ تاسو د خپلو بچو سره مینه کوی نو د هغوی تربیت به هم کوئ او کۀ د هغوی سره مینه نۀ کوئ نو د هغوی تربیت به هم نۀ کوئ .
(متلونه ١٣: ٢۴)

د ټولو نه لویه خبره دا ده چه په خپلو کښې مینه ساتئ ځکه چه مینه په ډیرو ګناهونو پرده اچوی. بې له ګوریدلو په خپله کښې د یو بل میلمستیا کوئ. هر چا ته چه هر څومره نعمت ورکړے شوے دے، هغه دِ د خدای د مختلفو نعمتونو د ښو مُختارانو په شان د یو بل خدمت کښې ولګوی.
(اول خط د پطروس په نوم ۴: ۸- ۱۰)

د میلمستیا کولو نه غافله کیږئ مه، ځکه چه د دِ په وجه ځنو خلقو د فرښتو میلمستیا هم کړې ده خو پوهه شوی نۀ دی.
(خط د عبرانیانو په نوم ۱۳: ۲)

# د مینی زوال نشته

## دا تول یو ځاے ساتل

**په هر یو کور کښې مشکلات وی خو چه د خدائ په وړاندی یی پیش کړی نو هغه به ستاسو مدد وکړی او تاسو له به قوت درکړی.**

خدای فرمائي: " زما فضل ستا د پاره کافی دے ځکه چه زما طاقت په کمزورتیاؤ کښې پوره کیږی ".
(دویم خط د کورنتیانو په نوم ۱۲: ۹)

خو خدای چه د اُمید سر چینه دے هغه دِ تاسو د خپل ایمان په وسیله د هری خوشحالئ او سلامتئ نه معمور کړی د دِ د پاره د روح القدس په قدرت ستاسو اُمید هم په مخه زیاتیږی.
(خط د رومیانو په نوم ۱۵: ۱۳)

**خو د خدای د روح میوه مینه، خوشحالی، سلامتی، زغم، مهربانی، نیکی، ایمانداری، عاجزی او پرهیزګاری ده.**
**(خط د ګلتیانو په نوم ۵: ۲۲- ۲۳)**

**عیسیٰ مسیح وفرمائیل: ''اے تاسوچه ټول خواری کوئ اوپنډ مو دروند دے، ما له راشی او زهٔ به آرام در کړم. زما جغ په غاړه کړئ او له ما نه زده کړئ، ولی چه زهٔ حلیم یم او په زړه کښې غریب او ستاسو روحونه به آرام مُومی.''**
**(متی ۱۱: ۲۸- ۲۹)**

**''دا زما حکم دے د یو بل سره مینه کوئ لکه چه ما تاسو سره مینه کړی ده.''**
**(یوحنا ۱۵: ۱۲)**

SGM International

Pashto (LT), ٢٠٠٤, ٣. ٥ m